# د سيف الرحمان سليم په شاعرۍ کښې پښتونولي

# The colours of Pashtoon wali in the poetry of Saif ur Rahman Saleem

Dr. Abaseen Yousafzai[1]

Abstract

Pashtoonwali is the code of life of Pashtoon. No one is considered without practicing Pashtoonwali. The colors of Pashtoonwali is also the subject of Paashtoon poets. One of them is Saif ur Rahman Saleem who is known for the progressive thoughts in Pashto literature but has the Pashtoon blood that's color is also a shining part of his poetry. We are going to discuss the color of Pashtoonwali in the poetry of Saleem.

Keywords: Pashtoon, Pashtoonwali, Code of life, Progressive thoughts,Pashto poetry, Pashtoon blooded.

سيف الرحمان سليم د پښتو جديد دور يو نمائينده شاعر دے چې په کال ۱۹۲۹ء کښې د جلال شاه په کور کښې د داودزو په کلي کښې پيدا شوے ؤ. هغهٔ د ژوند په هر اړخ په زړهٔ پورې شاعري کړې ده ولې په بنيادي توګه سوچه پښتون ؤ نو په شاعرۍ کښې ئې د پښتونولۍ عنصر ډېر زيات ترسترګو کېږي. پښتو کهٔ لهٔ يوې خوا د پښتون اولس د ژبې نوم دے نو لهٔ بل خوا د پت او غېرت، ښېګړې او ښهٔ خوي، ټُورې او مړانې، ننګ، وفا او حيا نوم هم دے. پښتو، پښتنواله او پښتونولي دا ټولې کلمې په يوه مطلب دلالت کوي.

سيد رسول رسا ليکي:

" د پښتو کلمه ذومعني ده. پښتو پښتانهٔ خپلې ژبې ته وائي او پښتو پښتانهٔ خپل ملي سيرت ته وائي. د دُنيا په هيڅ قوم کښې ملي ژبه د ملي سيرت په معنې کښې نهٔ استعمالېږي او دا امتيازي خصوصيت صرف د پښتو په کلمه کښې دے. يعني فارسي دان دا نهٔ وائي چې تا کښې فارسي شته يا نشته، يا عرب دا نهٔ وائي چې تا کښې عربي شته يا نشته يا انګرېز دا نهٔ وائي چې تا کښې

[1] Chairman Pashto Department Islami College University Peshawar.

انګریزي شته یا نشته خو صرف پښتانهٔ دا وائي تا کښې پښتو شته یا نشته ـ"i.

پت پالل، ننواتي منل، پناه ورکول، پهٔ ژبه او قول کلک ودرېدل، د ناموس ساتنه، د مشرانو عزت، د ښځو درناوے، د غریب او ګاونډي مرسته وغیره داسې خویونه دي چې دا ټول پهٔپښتونولۍ کښې نغښتے شوې دي. دغه ټول خویونه د سلیم پهٔ شخصیت او شاعرۍ کښې موجود دي.

لکه چې خپله پښتونولي پهٔ ډاګه کوي.

د مغلو پهٔ رمو کښې امزرے یم
پښتنو ته د پیشو نه هم مسکین یم
پهٔ سخت والي د خیبر ببره تیږه
پهٔ پوستوالي د ریښمو نه مهین یم
د راوي جل پرۍ! څهٔ باندې نازېږې
زهٔ پخپله شهزاده د آباسین یمii

Pukhtunkhwa Journal

او بیا پهٔ خپله پښتونولۍ فخر کوي چې:

دا خو زهٔ یم چې څهٔ وائم، او دا څکه چې پښتون یم
هره ساه مې زلزله ده، هر قدم مې انقلاب دےiii. "

پښتونولي د پښتنو د ژوند تېرولو فلسفه، ضابطه او ائین دے چې د پښتون قوم سره لهٔ ازله راغلے دے. د پښتنو ژبه پښتو نهٔ یوازې د ژبې نوم دے بلکې د پښتنو ملي سیرت هم دے.

سلیم پهٔ پښتنه خاوره او پښتون اولس مئین ؤ. تل ئې پهٔ خپل قوم او خاوره وياړ کړے دے د هغهٔ پهٔ شاعرۍ کښې د خپل عصر د سیاسي او سماجي حالاتو ترجماني شوې ده هغهٔ خپله سیاسي

نظریه پهٔ داسې ادبي او زړهٔ راښکونکي انداز کښې اولس ته وړاندې کړې ده چې د اورېدونکي او لوستونکي اودهٔ جذبات او احساسات راپاروي. ادب خو هسې هم د ژوند شارح او ترجمان ګڼلے شي د ادب پهٔ حقله سحر یوسفزے لیکي

" مونږ چې هر کله ادب لولو نو د ګېر چاپېره نه د دغه وخت د پاره لرې ډېر لرې اوځو او پهٔ غم کښې د خوشحالۍ سندرې پهٔ خزان کښې د پسرلي ننداره. پهٔ مونږ کښې د ژوندې اوسېدلو او د ژوند نه د خوند اخستلو یوه نوې جذبه راپاروي او زمونږه ژوند چې ډېر ګټین او د غنو شپولونو نه ډک دے. یوٰ رنګینه او خوند ناکه څیز اوګڼو. ژوند بیا بیګار نهٔ وي بلکې د تېرولو او خوند اخستلوڅیز شي -"iv

د سلیم شاعري هم د لوستونکو یا اورېدونکو جذباتو له حرارت ورکوي د هغوي پام د معاشرې اصلاح پلوٰ ګرزوي او لوستونکي یا اورېدونکي د ځان سره شریکوي. سلیم د خپل وطن پهٔ هر څیز مئین دے. پښتنو چې چرته هم کته کړې ده سلیم پرې فخر کړے دے لکه چې پهٔ دې قطعه کښې یوې تاریخي واقعې ته اشاره کوي او خپل ننګ، غیرت او پت ستائي:

چې مې وینې نو لهٔ وېرې تول رپېږي
هر مغل مې پهٔ زلزل کړو زلزله یم
د پښتون د غېرتونو خزانه یم
خلقه وپېژنئ ما زهٔ تاتره یم.v ۳۶

سلیم یوٰ جدت پسند او حساسه شاعر وُ هغهٔ د خپلې شاعرۍ پهٔ ذریعه د خپل اولس ترجماني کړې ده. شاعران پهٔ خپله شاعرۍ د معاشرې پهٔ رنځونو پهٔ قسما قسم طریقو ټکونه کوي او اولس ته ئې پهٔ ډاګه کوي، ځکه خو اکثره پوهه عالمانو د خپل درس و تدریس د پاره د شعرونو نه بنهٔ کار اخستے دے

" بنیادي طور پر شاعري همیں وہي کچھ بتاتي ہے جو غور و فکر کرنے والے اور مشاہدہ و

تجربہ سے گزرنے والے انسان پہلے ہي سے جانتے ہیں ۔ البتہ یہ ضروري ہے کہ جو علم ہمیں ملتا ہے وہ ان مثالوں کے ذریعے ملتا ہے جنہیں ہم پہلے سے نہیں جانتے. قاري کو مسرت یوں ملتي ہے کہ وہ عام انساني فطرت کے تقاضوں کو جنہیں وہ پہلے سے جانتا ہے، شناخت کر لیتا ہے."[vi]

سليم هم د خپلو خيالاتو خورونې له د شعر قومي ژبه پکار کړې ده. هغهٔ په هر وخت کښې د خپل پښتون قام لار ښودنه کړې ده. پښتون قام او پښتنه سيمه چې د کومو حالاتو سر مخ وه دغه حالات ئې د شعر په توررزنه ژبه وړاندې کړي دي لکه چې وائي

تاريخ گواه دے پښتنو ملگرو

چې څوک خبر خواه د پښتونخوا نشته[vii]

او بيا د مغل اصطلاح له رواج ورکوي چې:

سمه ده کهٔ غر دے کهٔ شگلنه کهٔ مهينه ده

خاورې د وطن مې مړه حسن سره مينه ده

تا سره مغله د پښتون وررور ولې نهٔ کېږې

ستا پهٔ زړهٔ کښې کرکه د پښتون پهٔ زړهٔ کښې مينه ده[viii]

پهٔ بل شعر کښې داسې وائي.

هيڅ باور مې د مغل پهٔ وعده نشته

خود غرضه او درغله فريبکار دے

ولې بل طرف ته د پښتون هم دا حال ؤ چې:

Pukhtunkhwa Journal

خانه زاد ئي د اورنګ زما رهبر کړو
يوسفزے مې خرڅوي نن په مغلو[ix]

پښتون تل د بل په اوګۀ توپک ږدي. د خپل مستقبل هيڅ فکر نۀ کوي. د خپل ماضي نه هډو سبق نۀ اخلي ځکه خو د پښتون قافله خپل منزل ته نۀ شي رسېدلے.سليم ئي څومره ښکُلے مثال وړاندې کوي چې:

د پښتنو قافله څۀ ده د ارهټ غوايۀ دے
چې په يوه دائره چورلي دا به چرته رسي[x]

کۀ يو پلو پښتنو کښې د علم او پوهې کمے دے نو بل اړخ ته حاکمان هم څۀ فرښتي نۀ دي. د خپل روڼ مستقبل لپاره ئي د پښتنو په ژوند اور پوري کړے دے او د نا اهله فيصلو لۀ وجې پرې نوي نوي تجربې کوي سليم وائي:

د نا اهله طبيبانو په ولقه يم
هر طبيب د پاره نوي تجربه يم
هره ورځ مې نوے نوے تشخيص کيږي
هره ورځ په نوي نوي رنځ اخته يم
انديښنې، صدمې، غمونه هر څۀ ډېر دي
په خپل کور زۀ د خدائې فضل دے پوره يم[xi]

سليم د پښتنو په غم غمجن شاعر ؤ. هر پښتون په خپله لُور، مور او خور خفه کيږي.سليم هم د

Pukhtunkhwa Journal

پښتنو پيغلو د ستر ملګرے ؤ. هغۀ نۀ غوښتله چې پښتنه پيغله دې بې حيا شي لکه چې وايي:

نن مې د مغلو په محفل کښې پورته نۀ کتل

نن چې ئې په مخکښې پښتنه په چورلکونو شوهxii

نن سبا چې پښتون اولس د کومو ستونزو سره مخ دے په هاغه وخت کښې هم پښتون د دې نه زيات په تکليف او کړاو کښې ؤ. په دې قسمه حالاتو کښې د هاغه وخت او د دې وخت حکومت يوازې ګرم نۀ دے بلکې پښتون هم په کښې شامل دے. کۀ په هاغه وخت کښې پښتون د خپل ورور عزيز کور لوټ کړے ؤ. د خپل ورور عزيز په سر ئې روپۍ اخستلې وې نو نن هم دغه سلسله جاري ده. دُشمن چرته هم پښتون نيغ په نيغه زير کړے نۀ دے، بلکې پښتون تل د خپلو د لاسه ماتې خوړلې ده سليم وائي:

نۀ څۀ نوې مسئله ده، نۀ څۀ نوے انکشاف دے

چې پښتون ولې ذليل دے، چې پښتون ولې اشراف دے

تۀ ئې څه کوې صاحبه ستا جوړه خو په کښې وشوه

کۀ د يۀ مُرده کفن دے، کۀ د بل قبر غلاف دے

دا خبره اوس صفا شوه، دا سند ئې ورله ورکړو

چې کوتوال ئې کلي وال دے، دے چې څۀ کوي معاف دے

زۀ چې څۀ وايم غلط دي، زۀ چې څۀ کووم ګناه دے

دے چې څۀ وائي قانون دے، دے چې څۀ کوي انصاف دے

هم هغۀ چې مې پُښتي وه، هم هغۀ چې پرې ډاډه ووم

هم هغۀ ئې پۀ پره شو، هم هغۀ مې وس خلاف دےxiii

او دغه مضمون پۀ بل شعر کښې داسې بیانوي.

پرزولے یمه خپلو د بل سپي ته

لاس مې نۀ پرېږدي لړګي ته نۀ غرګي ته

تکبر ئې سړیتوب باندې غالب شو

د سړي پۀ سترګه نۀ ګوري سړي تهxiv

پۀ پښتون قام کښې بلها خوبۍ راجمع شوې دي ولې د دغه خوبو سره پښتون بلها خامی هم لري. کۀ د خاورې او قام د پاره سر قربانوي نو هم د خاورې او قام سره درغلي هم کوي لکه چې سلیم وائي:

غېر به ولې نن پۀ پرۀ راسره تېنګ وے

خو پۀ مرسته ئې زما د ورور کومک دے

هسې نۀ چې بیا کوهي ته ورګزار شې

ستا پۀ ورونو یوسف خانه زما شک دےxv

پښتون تل پۀ خپله خاوره او قوم ننګ کړے دے کۀ د دژ اعلان شوے دے نو پښتون لۀ تولو وړومبے د جنګ میدان ته ځان رسولے دے سلیم هم د خپلې خاورې پۀ ننګ دُشمن پسې روانېږي چې:

Pukhtunkhwa Journal

هسې نۀ چې مستقبل دې تاریک تر شي
کله کله مخ را اړوه ماضي ته

د وطن په ننګ غلیم پسې روان دے
برے ورکړې لویه خدایه داودزي ته xvi

او بل شعر کښې وایي
کۀ زما په وینه کېږي نو ترې ځار شه
خو کلی د دې چمن دې په خندا شي xvii

سلیم د خپلې خاورې سره مینه داسې ښکاره کوي.

د راوي تندے دې ولې را ته تریږ شي
چې مئین زۀ په شالم او سردریاب یم
ما وهي چې حریفان مې خوفزده کړي
ستمونو له ئې ښکُلے انتخاب یم xviii

سلیم تل پۀ خپله پښتونولی او پښتو ژبه ویاړ کړے دے. ننګ او غیرت د پښتون قوم د خپل وطن، ناموس او ژبې د حفاظت نوم دے.غېر قومونو تل د نورو ژبو ته پۀ دې وجه نقصان ورکړے دے چې د هغوي ثقافت تبا شي. بدرالحکیم لیکي چې

" دوسري اقوام خصوصاً مغربي قومیں اپني قوم کو فائده پهنچانے کے لیے دوسري اقوام اور اپني زبان کي برتري کے واسطے دوسرے زبانون کا پامال کرنا قوم پرستي اور وطن دوستي

Pukhtunkhwa Journal

سمجھتے ہيں مگر افغان قوم پرستي رواداري پر مبني ہے.اپني قوم کو دوسري ترقي يافتہ قوموں کے برابر لانے، کسي کو اپنے جائزحقوق پر قبضہ کرنے سے روکنے اور تہزيب کے دائرے ميں رہتے ہوئے اپني عزت و وقارميں اضافہ کرنے کي خاطر دوسري اقوام کے ساتھ مثبت مقابلہ کرنے کو ننگ و غيرت اور سيالي کا نام ديتے ہيں -"xix...ص۱۵،۱۶

سليم ته د مورنى ژبې قدروقيمت معلوم ؤ. د کوم قوم ژبه چې ورکه شي هغه قوم هم ورکيږي. سليم پۀ خپله قومي ژبه مئين دے وائي چې:

ما په داودزو کښي د شالم پۀ اوبو واشخله

اوګورئ پښتو مې د فارسۍ نه هم شرينه ده

ځوک دي چې دا وائي د پښتو مئين وس نشته دے

زۀ يم، زما زړۀ دے، زما ځان دے، زما مينه ده xx

او بيا پۀ خپل قوميت او پښتونولى کښي تر دې حده رسېدلے ؤ چې

د جومات استاذ عرب دے پۀ مکتب کښي دهلي وال دے

يؤ استاذ راله پيدا کړئ خو پښتون راله پيدا کړئ

سليم کۀ هر څو د پښتون غم ژړولے دے ولې بيا هم داډۀ دے چې:

ګمان نۀ کووم چې روغ به ئې ځوک تير کړي

لا زيګوالے دومره شته دے پۀ پښتون کښي xxi

پښتانۀ چې څومره پۀ اسلام مئين دي. مېلمه دوست،تورزن، غېرتي، ننګيالے، پوخ دوست او پوخ دُشمن دے نو دومره د اسلام نه لرې هم دي. پۀ حقيقت کښي د علم پۀ رڼا نۀ دي منور شوي.پښتون جاهل دے. ضدي دے، حسد ګر دے، چغلي خور دے، رشوت خور دے. سيد رسول رسا د پښتنو

پهٔ حقله وائي

" پښتون د رسمو رواج پابند دے. پهٔ عزیز ولی کښې لاندې راتلل نهٔ خوښوي. د ورور تربور سره سیالي کوي کهٔ پهٔ هر قیمت وي....د پښتون مزهب خوښ دے خو ملا جوړېدل ورته عار ښکاري.... پښتون ساده او صاف ګو دے خو حق ګو نهٔ دے. پهٔ پره جنبه او دوستۍ دُښمنۍ کښې همېشه د ناحقې ګواهي او شاهدي کوي او پهٔ دروغو قسمونو خوړلو ته هم تیار شي -xxii"

پهٔ کوم وخت کښې چې سلیم ژوند کولو هغه وخت پهٔ پښتون اولس یؤ داسې جابر او استحصالي قوت مسلط ؤ چې خلاصے ترې ګران کار ؤ. نو هغهٔ د قومي احساساتو او مظلومې طبقې پهٔ مرسته کښې د شعر ژبه پکار کړې ده. خو بل اړخ ته پښتانهٔ هم د مال، دولت، نوکرۍ او تربګنۍ پسې لېواله وو.سلیم ئې نقشه ډېره ښکُلې راکاړي چې:

پښتانهٔ د پښتونخوا درانهٔ ښاغلي

د مغلو سېلاب یؤړو لکه خلي

زمانه راپسې تُوره پهٔ لاس کرځي

لکه ما ئې چې وي پلار نیکهٔ وژليxxiii

چې پهٔ کومه کوڅه ځم خلق مې ولي

لوے واړهٔ ئې دي د کلي لمسولي.xxiv

د پښتونولۍ لمن ډېره فراخه ده پهٔ دې کښې بلا انساني صفتونه او ښېګړې شاملې دي ولې بل اړخ ته بې غېرتي،بې ننګي، چاپلوسي، ټګي برګي، دروغ، جاسوسي، شومتوب، زور زیاتے د پښتونولۍ لهٔ قانون نه مخالف کارونه دي او چې څوک پهٔ دغو لارو او کارونو روان شي بیا هغهٔ د پښتون اولس پهٔ چوکاټ کښې نهٔ راځي. ډاکټر سهېل خان دغه ائین او دستور ته داسې ګوته نیسي

" پښتونولي د پښتنو د تاریخ، کلتوراو چاپېرچل پهٔ رڼا کښې د ژوند تېرولو هغه ائین دے. چې اداڼه ئې د دوي روایات او اقدار دي. پښتونولي د پښتون قام د ځاني، ملي، سماج، کلتوري اومعاشي چوکاټونو کښې د ژوند تېرولو هغه دستور ته وائي چې پهٔ هغې کښې د زرګونو کلونو د روایاتو تحفظ هم وي، ارتقاء هم او د بدلون لپاره فراختیا هم، دا کلتوري تنوع هم لري او د روایاتو او اقدارو کلک تړون هم یعني یؤ خوا Diversityنو بل خوا Integrationپښتانهٔ چې چرته هم ځي لهٔ ځان سره پښتونولي هم کرځوي. دا مثال د نړی نورو کلتوروڼو کښې نشته -"xxv

سلیم هم یؤ غېرتي پښتون ؤ د پښتنو لهٔ روایاتو خلاف چې چا هم قدم اوچت کړے دے سلیم د خپلې شاعرئ پهٔ ګرفت کښې راوستے دے. لکه چې د بې ننګه پښتنو حالات پهٔ ډاګه کوي چې:

خُلهٔ خو د مغلو ځکه سرهٔ شوله
نن چې تاتره هم پان خوره شوله
لاړه د پښتو جنازه ووته
لاړه غراره کښې غرغره شوله
سر نه د ختکو پګړی پربوته
نیغه د مغلو ټر ټُره شوله
ځان مې د مغلو هم نسبه کړو
جوړه مې اوس نوره شجره شوله
زهٔ خپلو وزرو رانیولے یم
ما ته خپله جاله هم پنجره شوله xxvi

او بیا د باګرام جونه هم نۀ پرېږدي وائي.

د باګرام جونه لباس کښي لاهورى شوي

نن سبا کښي به اوبۀ راته پاني کړي[xxvii]

پۀ نظم "پښتني زمکي ته" کښي وائي.

اے د پښتون د غېرتونو زمکي

اے د پښتون د عظمتونو زمکي

تۀ زما ستړکي يې نظر يې زما

تۀ زما لېچي يې وزر يې زما

تۀ چي شي وينه زلزلي راشي

پۀ اورنګ قبر کښي خولي راشي[xxviii]

او پۀ اخيرکښي ورته ځاري کوي چي:

نوموريِ! اوس خو سترګي اوغړوه

چل پښتنو ته د ژوندون وښايه

دُنيا ته بيا ژوندے پښتون وښايه [xxix]

بل ځاے وايي.

شايد ذکر د پښتون په کښې پيدا شي

کتابونه د تاريخ راته پراته دي

په وينا ئې چې منبر فخر کولو

هغه خلق دې خدائې وبخښي اوس مړۀ دي xxx

په دې لباسي دنيا کښې د حيادار د پاره ژوند تېرول ګران کار دے. دلته هغۀ انسان کامياب دے چې دروغجن وي، چمچه ګير وي، منافق وي،قول او فعل ئې يو نۀ وي. دلته تر هغۀ ژوند نۀ شي کولے تر څو چې:

بدو ته ئې ښۀ وايه ترخو ته ئې خواږۀ وايه

دلته کۀ دا نۀ وائې نو غلے شه څۀ مۀ وايه

چا سره چې تللے يم په لاره ئې لوټلے يم

زړۀ مې راته وائي رهبرانو ته اوس غلۀ وايه xxxi

د چا د لاسه چې پۀ پښتون ژوند تنګ شوے دے.چا چې پښتون پۀ تور تم کښې ساتلے دے، څوک چې د پښتون نامه ختمول غواړي نو هغۀ نن پښتون ته د آمن و امان مسئلې کوي. دغه د فريب سلسله د سليم نه واخله تر دې دمه رارروانه ده. سليم ئې پۀ ډاګه کوي چې:

کړي خبرې نن هغه د اتحاد

چې باني دے د دې شر او د فساد

Pukhtunkhwa Journal

دا قبا ئې د فرېب د بزرګۍ ده
را ولي پۀ ځان د خلقو اعتماد
دي نه لويه بدبختي د چمن څۀ ده
پۀ ګلچين کوي ګلونه اعتماد[xxxii]

بل ځاے وائي
چې شوکوي د قافلې لارې
هغه راښائي د کعبې لارې[xxxiii]

سليم پښتون اولس ته خبر دارے ورکوي چې:
دا ډيوه کۀ د پښتو ئې درله مړۀ کړه
نو تيارې دې پۀ قسمت د نوي کُول دي[xxxiv]

سليم پۀ پۀ خپل قوميت فخر کوي هغۀ په الله کلک باور لري چې يوه ورځ به هم دا پښتانۀ د خپل حق تپوس کوي، خپل وطن بۀ آبادوي او خپله پښتونخوا بۀ د نړۍ د ترقي يافته قومونو پۀ قطار کښې ودروي لکه چې وائي:

هغه نور دي چې هندکي سره هندکيان شُو
دا سليم دے چې هندکو ئې پښتنۀ کړه

دا به لويه کارنامه وي د ملګرو

پښتونخوا ئې کۀ پۀ سچه پښتنۀ کړه xxxv

غرض دا چې د سليم ټوله شاعري د قام پرستۍ او پښتونولۍ ائينه ده، چې هر پښتون ته پۀ کښې خپل ځان منعکس کېږي هغه پۀ هر حالت کښې د خپلې خاورې او پښتون اولس سره مينه کړې ده او دومره زياته مينه چې.

د زلفو، د سپرلي او د نشې پۀ نوم دي ستايم

زما پښتنې سيمې ته مې پېغله د غزل يې xxxvi

د سليم انقلابي طبيعت د استعمار او استحصال خلاف د هغه مزاحمت، د غريب اولس د لوږو تندو نقشه، د خوار مزدور او محنت کش سره د ظلم نۀ ختمېدونکي سلسله د هغۀ د شاعرۍ موضوعات دي. هغۀ پۀ معاشره کښې د پښتون حيثيت د خپل اثر ناک شعر پۀ واسطه پۀ ډاګه کړے دے چې:

کۀ امير دے کۀ وزير دے کۀ رعيت دے

هر قدم ئې پۀ طرف د معصيت دے

کافر کېږم د اسلام نه مې اوباسي

کۀ دا وايم چې پښتون مې قوميت دے

يۀ سکون د احتساب ئې دے پۀ پېښو کښې

نور پۀ کور کښې د خداے فضل خېريت دے xxxvii

Pukhtunkhwa Journal

## حوالي

Pukhtunkhwa Journal

i سید رسول رسا، ارمغانِ خوشحال، ماسټر پرېس محله جنګي، پېښور، دوېم ځل ۲۰۱۱ء،مخ۵۹

ii سیف الرحمان سلیم،د وړو وړو خدایانو دي بنده کړم،پښتو نړیواله مرکه،۲۰۱۷ء،مخ ۵۷

iii هم دغه ،مخ ۳۱

iv سحر یوسفزے، ادب څۀ دے؟، الکتاب پرنټر، پېښور، چاپ درېم ۱۹۹۶ء مخ ۳۱

v

vi سجاد باقر رضوي، مغرب کے تنقیدي اصول، مطبع عالیه،۱۲۰/۵ ټمپل روډ، لاهور، طبع دوم اکتوبر ۱۹۷۱ء ص ۱۷۵

vii هم دغه، مخ ۱۰۳

viii هم دغه ، مخ ۸۸

ix هم دغه، مخ ۸۲

x هم دغه،مخ ۱۵۸

xi هم دغه،مخ ۴۱

xii هم دغه ،مخ ۱۷۳

xiii هم دغه،مخ ۹۵

xiv هم دغه،مخ ۷۹

xv هم دغه،مخ ۹۴

xvi هم دغه، مخ ۸۰

xvii هم دغه ، مخ۱۳۶

xviii هم دغه، مخ ۱۰۶

xix بدرالحکیم حکیم زے، پشتونولي،ضیاء سنز پرنټرز، پشاور،چاپ دوم، ۲۰نومبر ۲۰۰۹ء ص ۱٦،۱۵

xx سیف الرحمان سلیم،د وړو وړو خدایانو دي بنده کړم،پښتو نړیواله مرکه،۲۰۱۷ء،مخ ۸۹

xxi هم دغه ، مخ ۱۷۶

[xxii] سيد رسول رسا، ارمغانِ خوشحال، ماستر پرېس محله جنګي، پېښور، دوېم ځل ۲۰۱۱ء، مخ ۶۳،۶۴

[xxiii] هم دغه،مخ ۷۰
[xxiv] هم دغه،مخ ۷۱
[xxv] ډاکټر سهېل خان، ښېرني، اعراف پرنټرز، محله جنګي، پېښور، فروري ۲۰۱۹ء مخ ۱۵۳،۱۵۴

[xxvi] سيف الرحمان سليم،د وړو وړو خدايانو دي بنده کړم،پښتو نړيواله مرکه،۲۰۱۷ء،مخ ۶۰
[xxvii] هم دغه،مخ ۹۶
[xxviii] هم دغه،مخ ۱۳۸
[xxix] هم دغه،مخ ۱۴۰
[xxx] هم دغه،مخ ۱۴۸
[xxxi] هم دغه،مخ ۶۳
[xxxii] هم دغه،مخ ۶۶
[xxxiii] هم دغه،مخ ۱۳۵
[xxxiv] هم دغه،مخ ۶۷
[xxxv] هم دغه،مخ ۹۱،۹۲
[xxxvi] هم دغه،مخ ۱۰۰
[xxxvii] هم دغه،مخ ۴۸

Pukhtunkhwa Journal